# د AEGIS پروژه:

**د پناه غوښتونکو او کډوالو ماشومانو او ځوانانو لپاره د برابرۍ پیاوړتیا**

د AEGIS پروژې له خوا د ځوانانو لپاره لنډیز

مې 2026

**موږ څوک یو او څه کوو؟**

موږ د AEGIS ټیم یو! موږ د ټولنیزو او روغتیایي برخو د څېړونکو یوه ډله یو. موږ پر یوې داسې پروژې کار کوو چې موخه یې د هغو ماشومانو او ځوانانو د روغتیا او هوساینې درک او ښه کول دي چې د پناه غوښتنې له سیستم سره تجربه لري، په شمول د هغو ځوانانو چې له سرپرست پرته راغلي دي.

**ولې مو دا کار وکړ؟**

د AEGIS پروژه د دې لپاره ده چې پوه شو روغتیا، هوساینه
او پاملرنه د هغو ماشومانو او ځوانانو لپاره څنګه ده چې په انګلستان کې پناه غواړي او یا کډوال دي.

موږ غوښتل پوه شو:

- ځوانان څه شی د ښه احساس او هوساینې لپاره مهم ګڼي.
- ښه پاملرنه څه ډول ښکاري.
- ځوانان څنګه غواړي په څېړنو کې ګډون وکړي.
- او څه شی باید بدلون ومومي.

**ولې ځوانان زموږ د کار په مرکز کې دي؟**

ستاسي نظریات ډېر مهم دي. په تېرو میاشتو کې موږ له ډېرو ځوانانو او هغو کسانو سره خبرې کړې دي چې د هغوی پاملرنه کوي، ترڅو دا موضوعات ښه درک کړو. موږ همدارنګه هڅه کړې چې پوه شو دوی څنګه غواړي په څېړنو کې ګډون وکړي.

**څه مو زده کړل؟**
**<u>1) ژوند نه درېږي</u>**



ډېر پناه غوښتونکي ځوانان له اوږدو، سختو او کله ناکله له دردناکو سفرونو وروسته انګلستان ته رسېږي. ځيني يې يوازې راځي.

خو رسېدل دا معنا نه لري چې هر څه ناڅاپه اسانه شي. ځوانان لا هم له دې ستونزو سره مخ وي:

- د استوګنې ستونزې
- مالي اندېښنې
- يوازيتوب او د خپل کور ياد
- حقوقي ناڅرګندتيا
- د ژبې خنډونه
- د نوو سيستمونو درک کول

دوامداره ملاتړ ترلاسه کول تل اسانه نه وي. د دوی معلومات تل ورسره نه انتقالېږي او سيستمونه هم تل ورسره همغږي نه وي. دا کار کولی شي ځوانان په معلوماتو کې لږ څرګند کړي او د خدماتو ترمنځ يې د «ورکېدو» احتمال زيات کړي. د بېلګې په توګه، که يو ځوان ډاکټر ته ولاړ شي او د وينې معاينه وکړي، خو وروسته بل ښار ته کډه وکړي، د معاينې پايله کله ناکله ورکه شي او ښايي بيا يې تکرار کړي. دا کار نااميد کوونکی دی او بايد داسې ونه شي.

همدارنګه، هغه ملاتړ چې ځوانان يې ترلاسه کوي بايد کله چې 18 کلن شي ناڅاپه بند نه شي. هغوی بايد د لويوالي مرحلې ته د لېږد پر مهال تر هغه وخته ملاتړ ترلاسه کړي څو خپلواک ژوند ته چمتو شي.

## 2) په يو وخت کې ډېر بار پر اوږو لرل




له رسېدو وروسته، ډېر ځوانان هڅه کوي چې په يو وخت کې ګڼې چارې سمبالې کړي.

کله ناکله ممکن ځوانان له يوې ليدنې يا ملاقات څخه پاتې شي. موږ زده کړې چې دا تل دا معنا نه لري چې هغوی ملاتړ نه غواړي يا ورته اړتيا نه لري. کېدای شي دا معنا ولري چې هغوی له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او ډېر بار پر اوږو لري.

ملاتړ بايد د هغو واقعيتونو پر بنسټ وي چې ځوانان ورسره مخ دي او د هغو موضوعاتو پر بنسټ چې دوی يې تر ټولو مهمې ګڼي.

**<u>3) روغتيا يوازې درمل نه دي</u>**



ځوانانو موږ ته وويل چې روغتيا يوازې د ويني معاينې او واکسينونو پورې محدوده نه ده.

د روغتيا او هوسايني احساس د لاندې عواملو له امله اغېزمنېږي:

- خوندور او اشنا خواړه
- په استوګنځي کې د خونديتوب احساس
- آرامه او مناسب کور
- د انګليسي ژبې زده کړه
- حقوقي ملاتړ ترلاسه کول
- له ټولنې سره اړيکه
- ورزش او فزيکي فعاليت

دا ټول يو له بل سره تړلي دي. کله چې د ژوند يوه برخه ستونزمنه وي، پر نورو برخو هم اغېز کوي. کله چې يوه برخه ښه شي، نورې برخې هم ښه کېدل پيلوي! **هغه مسلکي کسان چې له ځوانانو سره کار کوي بايد دا درک کړي او هغوی د يوه بشپړ انسان په توګه وګوري.**

## 4) ښه پاملرنه ټول انسان ته ګوري



ځوانانو موږ ته وویل چې د روغتیایي کارکوونکو، ټولنیزو کارکوونکو او نورو مسؤلو لویانو له خوا د پاملرنې او مشورو په ترلاسه کولو کې یې بېلابېلې تجربې لرلې دي.

د پاملرنې ښه تجربه هغه وخت رامنځته کېږي چې لاندې موارد موجود وي:

- په غور اورېدل
- درناوی
- روښانه اړیکه
- باور او دوام
- انعطاف او خوندیتوب

پاملرنه هغه وخت ښه کار کوي چې ملاتړونه یو له بل سره همغږي وي، ورته لاسرسی اسانه وي او په هغو ځایونو کې وړاندې شي چې ځوانان لا دمخه ورسره بلد وي؛ لکه ښوونځي، ټولنې او باوري خدمات.

**5) ځوانان غواړي په مانا لرونکو لارو چارو کې ګډون وکړي**

ځوانان خوښوي چې خپل نظرونه شریک کړي او غږ یې واورېدل شي. دا ښه احساس دی چې پوه شي داسي خلک شته چې د بدلون لپاره کار کوي. خو هغوی هم بوخت دي او ډېرې چارې لري. که دوی په ځېړنه کې ګډون کوي، باید دوی ته هم کومه ګټه ورسېږي.

د وخت او سفر لګښت ورکول ډېر ډېر اړین دی. تر دې مهمه دا ده چې ځوانان د مهارتونو او کاري تجربې ترلاسه کولو سره لېوالتیا لري.

هغوی همدارنګه غواړي چې موضوعات په دقت ورته تشریح شي او د پوښتنو کولو لپاره وخت ولري. مهمه خبره دا ده چې دوی غواړي پوه شي د هغو معلوماتو سره څه کېږي چې دوی شریک کړي دي.

«ایا کومه خپرونه وشوه؟ راته یې ولېږئ! ایا کوم راپور جوړ شو؟ غواړم هغه ووینم!»

**څه باید بدل شي؟**
**موږ باید:**

- ځوانان په سیستمونو کې لا ځرګند کړو.
- د هوسايني ټول انځور ته وګورو.
- پاملرني ته لاسرسی اسانه کړو.
- ځوانان په دوامداره توګه ښکېل وساتو.

**مننه!**

له هغو ټولو ځوانانو څخه مننه چې خپلې تجربې، نظریات او وخت یې د AEGIS پروژې سره شریک کړل.

**غواړئ له موږ سره اړیکه ونیسئ؟**
که کومه پوښتنه، نظر یا د ګډون هیله لرئ، موږ به خوشحاله شو چې له تاسو واورو.
له موږ سره د اړیکي لپاره: uclh.aegisproject@nhs.net
یا زموږ د LinkedIn پاڼه وګورئ: https://www.linkedin.com/company/projectaegis/